AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودويگ آدمک
ترجمه: رحمت آريا

۲۰۲۶/۰۶/۲۳

# د افغانستان بايوګرافيکي قاموس
# دوهم ټوک
## (نهه اتيايمه برخه)

## محمد علي رونق

د محمد امان زوی په ۱۹۲۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د ورکشاپ څښتن. د استقلال په ليسې کې او په فرانسې کې ئې د راډيو په انجنيرۍ کې تحصيل کړی دئ. «موليير» [1] ئې له فرانسوی څخه دري ته وژباړه. شاعر او ليکوال. د افغان تياتر يو مهم غړی. مورنی ژبه ئې دري ده.

**ډاکټر قيام الدين راعي** : وګورئ : برلاس

## ډاکټر سيد سلطان علي رضوي

د ږغزني د ساداتو د يوې کورنۍ د سيد عبدل رضوي زوی په ۱۹۲۸ز کال کې په غزني کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئې په اسلامياتو کې خصوصي کړې دي. د تجارت له ليسې څخه فارغ سوی دئ؛ په ۱۹۶۶ز کال کې ئې د کابل پوهنتون د ادبياتو له پوهنځي څخه ليسانس تر لاسه کړ؛ او په ۱۹۸۲ز کال کې ئې د تهران له پوهنتون څخه خپله دکتورا د فارسي په ادبياتو کې ترلاسه کړه. په ۱۹۴۸ز کال کې ئې د تأريخ د ټولني غړی. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د آريانا د مجلې محرر. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي مدرس. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۸۲ز کال پورې د ايران له کلتوري بنسټ سره د «فارسي ژبې د تأريخي انسايکلو پيډيا» په تصحيح کې همکاري وکړه. په ۱۹۸۲ز کال کې په پاکستان کې مهاجر وو او په ۱۹۸۴ز کال کې ئې د امريکا متحده ايالاتو ته مهاجرت وکړ. د آريانا په انسايکلوپيډيا، ادب، عرفان، آريانا او پيام حق په مجلاتو کې د ګڼ شمېر مقالاتو ليکوال. دري نثر، د افغانستان د ليکوالانو په وسيلې ئې وليکۀ چي د ايران د فرهنګي بنسټ له لوري په تهران کې چاپ سو.

## ډاکټر محمد حسين راضي

د محمد نسيم زوی په ۱۹۳۳ز کال کې په چهاردهي کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۳ز کال کې له دارالمعلمين څخه فارغ سوی دئ او په ۱۹۵۷ز کال کې د پارسي په ادبياتو کې د ليسانس په درجې د کابل پوهنتون د ادبياتو له پوهنځي فارغ

---

[1] - Molière : ژان بتيست پوکولن Jean-Baptiste Poquelin د موليير Molière په مستعار ادبي نوم فرانسوي ډرامه ليکونکی، شاعر او ممثل وو چي په فرانسي او نړۍ کې يو له سترو ليکوالانو څخه ګڼل کېږي او د موليير ډرامه دډۀ ادبي شاهکار دئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سوی دئ؛ په ۱۹۶۴ز کال کې ئـې د انديانا له پوهنتون څخه خپله ماستري د ډلاربښوونيز سيستم په تکنالوژۍ[2] کې واخيسته. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۶۹ز کال پورې او له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۴ز کال پورې په ډارتباط جمعی[3] او په ۱۹۷۵ز کال کې ئـې «په ښوونه او روزنه او رهبريت کې» [4] خپله دکتورا واخيسته. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۲ز کال پورې د نجات په ليسي کې د پارسي ژبې ښوونکی. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د ادب د مجلې محرر او د نشراتو مدير. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۸ او له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي د ژورناليزم د څانګې مدرس او له ۱۹۷۵ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د همدې پوهنځي استاد. د راډيو افغانستان د دري د ژبې د راډيو د پروګرامونو پروډيوسر او سلاکار. د يو شمېر آثارو مؤلف. د پوهنې مډال يې اخيستی دئ. په ۱۹۶۶ز کال کې د چين راډيو ته او په ۱۹۶۹ز کال کې بلغاريا د افغانستان کلتوري پلاوی. په ۱۹۸۰ز کال کې ئـې افغانستان پرېښود او له ۱۹۸۲ز کال راهيسې د امريکا په متحده ايالاتو کې د انديانا د ډونسنز[5] په ښار کې د ډونسنز په پوهنتون[6] کې د نړۍ والو محصلينو په چارکې ښکېل دئ.

## شفيقه رزمنده

ډ غوايي له پاڅون وروسته› د افغانستان د دوستی د ټولنو [7] منشي.

## مـحـمـد ابراهيم رزمي

ډ غوايي له پاڅون وروسته› د کورنيو چارو د وزارت د سياسي چارو رئيس.

## انجنير عبدالظهور رزمجو

د مرکزي کمېټې او د انقلابي شورى غړی. د کابل ښار، د ښاري ګونډي کمېټې مسؤول. په ۱۹۸۰ز کال کې د سياسي بيرو علی البدل غړی.

## عبدالغفور رجاء

د عبدالغياث زوی په ۱۹۱۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د استقلال له ليسې څخه له فارغيدلو وروسته په ۱۹۴۸ز کال کې د کابل پوهنتون د ساينس له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. لومړی په پاريس کې د فرانسي په بانک[8] کې مقرر سو او بيا په ۱۹۵۰ز کال کې بېرته افغانستان ته راستون سو. رجاء په ۱۹۵۰ز کال کې له راستنيدلو وروسته يو څېړنيز دفتر پرانيست چې ډ فرانسي د بانک دفتر› [9] نومېدۀ. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۶۰ز کال پورې په ډلندن کې د افغان سوداګرۍ د کمپنۍ› [10] بنسټګر او مشر. په ۱۹۶۰ز کال کې په کابل کې ، د افغانستان بانک د باندنۍ سوداګرۍ د

---

[2] - Instructional System Technology, Indiana University
[3] -Mass communication
[4] -Ed. D, : the doctor of Education
[5] -Vencennes
[6] -Vencennes Universtiy
[7] -Friendship Societies of Afghanistan
[8] -Banque de France
[9] - Bureau de la Banque de France
[10] -Afghan Tranding Company


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

دیپارتمنت دایرکتر جنرال. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د ِقره قل د انستیتیوت[11] بنسټګر او مشر. د ستور پېژندنې په هکله یې یو کتاب او د اروپا د اقتصاد د تأریخ یو کتاب وژباړه. اوس د صوفیزم په هکله کتاب لیکي.

**رجایي** : وګورئ : رجائـي

## ذبیح الله رسا

د قاضي محمد صدیق زوی په ۱۹۱۱ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. اسلامیات یې په هرات کې ولوستل. په بیلابیلو دولتي ارګانونو کې میرزا. په ۱۹۳۵ز کال د اقتصاد د وزارت ِقلم مخصوص؛ په ۱۹۴۷ز کال کې د بورې د فابریکې مرستیال رئـیس. په ۱۹۵۱ز کال کې د سروبي د برېښنا د تولید د ستیشن سرپرست رئـیس. د هرات د برېښنا د ستیشن مشر. شاعر.

**رشاد** : وګورئ : رشاد

**رشتین** : وګورئ : رشتین

نور بیا

## میر محمد اکبر رضاء

په ۱۹۳۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبیبیـې لیسې ته تللی دئ؛ د ماساچوست د...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

11 - Karakul Institute


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ